UNHCR
The UN Refugee Agency

DAFI

Inspire Pakistan

# پاکستان کې افغان کډوال زده کوونکو ته بلنه

## چې د 2019 ډافي بورسونو لپاره خواستليکونه ورکړي

کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري يو اين ايچ سي آر، انسپاير پاکستان سره په همکارۍ، غواړي چې د المان په مالي مرسته د کډوالو لپاره د البرټ آين سټاين اقدام ډافي 2019 لپاره خواستونه ورواستول شي.

### د وړتيا معيارونه

- د نوم ثبتوني د ثبوت يعني پي او آر کارډ لرونکی (لرونکې).
- چې عمر يې له 17 تر 30 کاله وي.
- چې د هاير سيکنډري سکول تصديقنامه (دولسم/HSSC) يا موازي تصديقنامه لري.
- چې د پاکستان د لوړو زدکړو کميسون ايچ اي سي څخه منلو ادارو کې داخله لري/د داخلې د بلنې ليک لري.
- کانديدانو بايد په وروستي امتحان کې لږ تر لږه 60% نومرې اخستې وي.
- خواست ورکوونکی بايد له خپلې کورنۍ يواځينی تن وي چې له ډافي ګټه پورته کوي.
- خواست ورکوونکی بايد دا مهال کوم اکاډميک بورس نه تر لاسه کوي.
- خواست ورکوونکی بايد ټولنې ته د خدمت غښتلی شوق ولري.
- بايد يو مسلکي ډګر سره دلچسپي ولري.
- زنانه افغان کډوالې چې لوړې زدکړې کوي هڅول کيږي چې خواستونه ورکړي

### د خواستليک فورمې سره د اړتيا اسناد

- د ډافي د خواست فورمه بايد پوره ډکه وي
- د پاسپورټ سايز 2 عکسونه
- د پي او آر کارډ يو نقل
- د لسم او دولسم تصديقنامو سره د نومرو د تفصيل اسناد
- يوه تعليمي اداره کې د داخلې ثبوت (د داخلې ليک/اداري سره د پيوستون ليک)
- افغان مکتبونو څخه زدکړې کوونکو لخوا مساوي تصديقنامې

### مهم يادښت

- مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې يواځې شارټ لسټ شوي کانديدان به په ترتيب اسلام آباد، پېښور، کراچۍ، او کوټې ته د هغوی په خواست فورمو کې ورکړو فون نمبرو او ايميل ادرسونو له لارې رابلل کيږي.
- پاکستاني زده کوونکي دغه بورسونو لپاره وړ نه دي. څوک چې د کانديدانو د انتخاب په کميټه اغيز اچولو هڅه وکړي، هغوی به له پروسې په اتومات توګه خارج وګڼل شي.
- زده کوونکي چې له مخې د هاير ايجوکيشن کميشن يا د بورسونو بل پروګرام څخه ګټه اخلي وړتيا نه لري چې ډافي لپاره خواست ورکړي.
- د غلطو معلوماتو يا اسنادو په انعکاس کې يو اين ايچ سي آر حق لري چې بورس حذف کړي.
- ياد ولرئ چې د خواست فورمې وړيا دي.
- نامکمل او ناوخته خواستليکونه نه قبليږي.

د خواست فورمې د ډاونلوډولو ځای:

www.unhcrpk.org

www.dafi.inspirepk.org

/www.facebook.com/Inspak

خواست ليکونه او اسناد د ډافي پراجيکټ منيجر - انسپاير پاکستان ته د کورير يا عام ډاک له لارې **20 اګست 2019** پورې يا له هغې وړاندې په لاندې ادرس استول کېدلای شي: هاوس نمبر 351، سټريټ نمبر 72، سيکټر جي-11 ټو، اسلام آباد.

**زنانه او ځانګړې اړتياوې لرونکي کانديدان خاص هڅول کيږي چې خواست ورکړي**